## مطبوعاتي اعلامیه

## کشمیر د هند داخلي مسله نه، بلکې د اسلامي امت یوه نه بېلېدونکې برخه ده

## د خلافت د بیا تاسیس لپاره له زمور سره یو ځای شئ، څو کشمیر د ګډ هند له ښکېلاک څخه وژغورو

حزب التحریر-ولایه بنګله دېش د ۲۰۱۹م کال د اګبسټ په ۲۳مه د جمعې له لمانځه وروسته په ډاکې او چیټاګنګ ښارونو کې د حسینې رژیم د هغې ادعا خلاف لاریونونو ته راووتل، چې کشمیر یې د هند داخلي مسله بلله. رژیم خلک نه پرېږدي، چې د کشمیر په پلوۍ لاریونونه وکړي. د لاریون کوونکو ویناوال د کشمیر د مسلمانانو بېوزلي او غم بیانوي. مسلمانو خاینو سیاستوالو چې د هند مشرک دولت او غربي ښکېلاک لاسپوڅي دي، د هندي دولت پر دغو کړنو یې ځانونه کاڼه اچولي دي. هند د یوې امپریالیستی طرحې د پلي کولو هڅه کوي، چې په دې سره ټول کشمیر تر خپل ښکېلاک لاندې راولي او غواړي په دغې نیمه وچه کې بل فلسطین جوړ کړي. د کشمیر د ازادۍ په اړه د هند د اساسي قانون د ۳۷۰ مې مادې په لغوه کولو سره، قصاب مودي کشمیر د مرګ پر دره بدل کړی دی. د هند حکومت د لویو نظامي ځواکونو پر مېشت کولو سره د کشمیر مسلمانان تر سختو شکنجو لاندې راوستي؛ پر دوی یې د تګ راتګ پر بندیز لګولو سربېره د ټلیفون او انټرنېټ مزي هم پرې کړي دي.

ظالم هندي ځواکونه پر کورونو یرغل کوي او په ډله ییزه توګه خلک نیسي. پر راټولو شوو خلکو ډزې کوي او ټپي شوي کسان حتا د نیولو له وېرې روغتونونو ته نشي تللی. بل خوا د حسینې لاسپوڅی رژیم د دې پر ځای چې زمور ځواکونه د مسلمانانو په ملاتړ کشمیر ته واستوي، د کشمیر پر مسلمانانو ملنډې وهي او په بنګله دېش کې د هند د بهرنیو چارو د وزیر مېلمه پالنه کوي. د حسینې رژیم په دې خبره مسلمانان تېرباسي، چې «کشمیر د هند داخلي مسله ده» او هڅه کوي چې په دې توګه خپل ګډ امپریالیسټ کافر چارواکي خوشاله کړي.
پر دې سربېره دوی د بنګله دېش خلک وېرولي، څو د کشمیر د مسلمانانو لپاره د هند پر وړاندې خپله غوسه ونه ښیي او لارو او کوڅو ته له راوتلو څخه ډډه وکړي. دغه لاسپوڅی رژیم په ډېرې سپین سترګۍ د الله سبحانه وتعالی له امر څخه سرغړونه کوي:

**﴿...وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ...﴾**

[الانفال ۸:۷۲]

***ژباړه:*** *...که هغوی له تاسو څخه د دین په اړه مرسته وغواړي، نو له هغوی سره مرسته کول پر تاسو فرض دي....*
همدا راز د لاریون کوونکو ویناوال وایي: اې مسلمانانو! د کشمیر خلک د اسلامي امت یوه نه بېلېدونکې برخه ده او کشمیر د هند داخلي مسله نه ده. رسول صل الله علیه وسلم فرمایلي:

**«مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى»**

(صحيح المسلم)

*__ژباړه:__ مومنان په غم، درد، زړه سوي او خواخوږۍ کې سره شریک دي او د یوه بدن په څېر دي. کله چې د بدن یو غړی په درد شي، نو ټول بدن ورسره ناارامه او بې خوبه وي.*

د کشمیر، فلسطین، میانمار او د نړۍ په هر ګوټ کې د مسلمانانو درد د ټول امت درد دی. د ایمان له مخې دا زموږ دنده ده، چې د کشمیر پر مسلمانانو سربېره د نړۍ د ټولو مسلمانانو ستونزو ته حللاره ولټوو.

د کشمیر د دغه ناوړه برخلیک اساسي علت په امت کې د ربښتینې او پاکې مشرۍ (خلافت) نشتون دی. کشمیر تل د هند تر ښکېلاک لاندې و او اوس د ۳۷۰مې مادې په لغوه کولو سره باید بې دفاع پاتې نشي. په داسې حال کې چې د کشمیر راپرځېدل هغه مهال پیل شول، چې امپریالېسټ دښمنانو زموږ د واکمنو په مرسته د ۱۹۲۴م هـ.ق کال د مارچ پر ۳مه اسلامي خلافت رانسکور کړ. موږ یې تر ۵۰ په ډېرو ملي دولتونو ووېشلو او دې ته یې اړ کړلو چې د دوی لاسپوڅي د واکمنو په توګه ومنو او بشري نظام ته غاړه کېږدو. موږ د دښمن پر وړاندې ناتوانه او بې ډاله شوو. وروسته دوی زموږ خاورې د وحشي ځناور په څېر ونیولې. د دوی تیري او یرغل په نړۍ کې د کشمیر په ګډون ټولې اسلامي خاورې لاندې کړې.

ویناوالو همدا راز وویل: اې مسلمانانو! ملګري ملتونه او OCI له امپریالیستي وسایلو پرته هېڅ نه دي. دوی زموږ ستونزې نشي حلولی. یوازې نژدې راتلونکی راشده خلافت کشمیر او ټولو هغو سیمو ته خپل نظامي ځواکونه استولی شي، چې مسلمانان تر ظلم لاندې دي. ثوبان روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«عِصَابَتَانِ مِنْ أُمَّتِي أَحْرَزَهُمَا اللَّهُ مِنْ النَّارِ عِصَابَةٌ تَغْزُو الْهِنْدَ وَعِصَابَةٌ تَكُونُ مَعَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلَام»**

(احمد او النسا)

*__ژباړه:__ الله سبحانه وتعالی زما د امت دوې ډلې د دوزخ له اور څخه ژغورلې دي: یوه هغه ډله چې هند ونیسي او بله هغه ډله چې له عیسی ابن مریم سره وي.*

په پای کې ویناوالو پر خلکو غږ وکړ، چې د حزب التحریر هغې غوښتنې ته هرکلی ووایاست، چې له تاسو څخه د خلافت په تاسیس کې مرسته غواړي، څو کشمیر له ګډ هند څخه د تل لپاره ازاد شي. موږ به له دغه لاسپوڅي او ډران رژیم څخه څه تمه ولرو، چې په خپلو خاورو کې پر مسلمانانو ظلم کوي او د ګډ هند د سیمه ییز واک د ټینګښت لپاره له خپلو امپریالېستي واکمنانو سره اوږه پر اوږه کار کوي؟ همدا یې ښه وخت دی، چې د حسینې رژیم له منځه یوسو، ځکه د ګډ هند لاسپوڅی رژیم دی او په بدل کې یې د مسلمانانو ډال

(پياوړی خلافت) بېرته راوګرځوو؛ هغه خلافت چې د کشمير، فلسطين او راخين په شومول په نړۍ کې ټول مظلوم مسلمانان ازادولی شي.

رسول صل الله عليه وسلم فرمايلي:

**«وَإِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

(صحيح المسلم)

***ژباړه:*** *اما (خليفه) هغه ډال دی، چې تر شا يې جګړه کېږي او ځان ورباندې ساتل کېږي.*

**د حزب التحرير-ولايه بنګله دېش مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۳۴/۱۴۴۰**

**۱۴۴۰هـ.ق، کال د ذوالحجې ۲۲مه**

**۲۰۱۹م، کال د اګېستې ۲۳مه**